**مطبوعاتي کنفرانس**

**د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومی منشی دځانګړی استازی يان کوبيش د خبري ناستي متن**

**کابل- د مارچ د مياشتی ۲۸ مه نيټه کال ۲۰۱۲**

لومړی، ستاسو له راتګ څخه مننه. ستاسو ټولو سهار نيکمرغه. له دې مرکز څخه د دې فرصت د برابرولو په هکله مننه کوم. زه ډير خوښ يم چې له تاسو سره يو ځای له دغه ښکلی مرکز څخه کار اخلم. په رښتيا سره دا زموږ د يوناما د مرکز په پرتله ډير ښکلی او مستريح دی. غواړم يو وار بيا ستاسو د ميلمه پالنې څخه مننه وکړم. له هغه وړاندې چې زه په خپل مقدماتي بيان پيل وکړم غواړم تاسو ټولو ته د نوي کال په مناسبت که څه هم چې څه موده وړاندې تير شوی، خو زه فکر کوم چې اوس هم نا وخته نه دي، خپلې ښې هيلې وړاندې کړم. لمر ځليږي او سپرلی په را رسيدو دی. دا د کال هغه شيبه ده څو خوشحال و اوسو او نوي ژوند پيل کړو.

زموږ د ټولو لپاره د کال دا وخت د يوه نوي ژوند د پيل په مانا دی، ځکه چې زه اوس دستي له نيويارک څخه چيرې چې څو ورځې وړاندې د امنيت شورا د يوناما او زما د ماموريت دواړو لپاره او همدارنګه د ملګرو ملتونو د ټولې کورنی د نمايندګيو، وجهي صندوقونو او په افغانستان کې د موجودو پروګرامونو لپاره نوي اختيارات تصديق کړل، بيرته راستون شوی يم. زه ډير خوښ يم چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا په اتفاق آرا ډول پريکړه وکړه. زه غواړم په دې ټينګار وکړم ځکه چې د امنيت شورا اکثرا نه شي کولای او يا هم په داسې موقعيت کې نه وي چې په ځينو مواردو کې په اتفاق د آرا ډول پريکړې ترسره کړي. د افغانستان په حواله، هغوي ټولو په يوه خوله د ماموريت په هکله هوکړه وکړه او دا هغه اړينه غښتلتيا ده. زه ډير خوښ يم چې د امنيت شورا دا ومنله.

زه غواړم تاسو ته خبر درکړم چې دا ماموريت د افغان حکومت سره د پراخې ښکيلتيا، نږدې همغږي، او سلا مشورو په ترڅ کې تيار او چمتو شوی دی. که څه هم چې افغانستان د امنيت د شورا غړيتوب نه لري، په کابل کې د افغانستان استازيو او په نيويارک کې د افغانستان سفير ښاغلی ظنين د امنيت شورا د غړو سره د کار کولو له لارې د افغان حکومت او د مدني ټولنې د اندېښنو او غوښتنو د مطرح کولو په ډګر کې د پام وړ رول لوبولی دی. د هغوي يو شمير غوښتنو ته په نويو اختياراتو کې ځای ورکړل شوی دی.

زه غواړم ستاسو پاملرنه د دې نوي ماموريت په هکله څو مهمو عنصرونو او بدلونونو ته چې موږ مشاهده کړي را واړم. دا ټول د افغانستان د غوښتنو سره په مطابقت کې دي. د يوناما نوی ماموريت او ملګري ملتونه دا مننی چې افغانستان د ټولو

پروسو د لا زیات مالکیت او حاکمیت د تر لاسه کولو ته کوم چې په دې هیواد کې د واقع کیدو په حال کې دی، روان دی. د مسئوولیت د انتقال لړۍ روانه ده، موږ ټول په سیمه او هیواد کې د نویو حقیقوتونو سره مخامخ یو. البته دا به په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کار لپاره لارښوونکی عنصر او ځواک وي. زه ډېر خوښ یم چې دا ټول د ماموریت په یو شمیر برخو کې منعکس شول.

کله چې موږ د هیواد لپاره په راتلونکې کې د ملګرو ملتونو د ریښتینې دندې په هکله خبرې کوو، زموږ په ماموریت کې به تاسو د افغان مشرتابه او مالکیت او همدارنګه د ټولنې په یو شمیر برخو کې د افغان چارواکو د ملاتړ په موخه د کار په هکله د ملګرو ملتونو د کورنۍ په وړاندې د پیاوړو غوښتنو او زموږ د کار د یو شمیر اړخونو په هکله که چیرې دا د جمیله مساعیو، د بشري حقونو په برخه کې، د سیاسي پروسو لپاره د ملاتړ، د ښځو د حقونو، د ملکیانو د ساتنې، د ښځو او ماشومانو د ساتنې په هکله وي، موندلای شئ.

دا د ټولنې له نظره او همدارنګه له افغان حکومت سره د فساد سره د مبارزې او ښه حکومتداري د رامنځ ته کولو په برخه کې د مرستې د نکتې له نظره، همدارنګه ډیره مهمه ده چه د خلکو په ژوند کې دریښتینې پرمختګ او پراختیا لپاره کار وکړي او د نړیوالې ټولنې سره مرسته وکړي، په خپله ځان تنظیم کړي، څو د لا زیات اغیزناکتوب لپاره ملاتړ برابر کړي او د افغانستان د ملي لومړیتوبونو لپاره لا زیات ملاتړ رامنځ ته کړي.

دا یو مهم پیغام دی. زه باور لرم چې دغه پیغام په هیواد کې بدلیدونکې حقیقتونه او د ټولنې غوښتنې منعکسوي. زه ډیر خوشحال یم چې دغه ماموریت په اتفاق سره تصویب شو. دغه ماموریت د یو کال لپاره اوږد شو او ډیرې زیاتې دندې او برخې موجودې دي، چې د کلونو لپاره باید دوام وکړي او زموږ کار په راتلونکو کلونو کې رهبري کړي، نه یوازې د یوه کال لپاره. سیاسي پروسې، د سولې او پخلاینې پروسه، ښه حکومتداري، د بشري حقونو ساتنه او په ټاکنو پورې اړونده مسئلې په دې پروګرام کې شاملې دي. همدارنګه په سیاسي برخه کې په ۲۰۱۴ د ولسمشرۍ او په ۲۰۱۵ کې د ولسي جرګې ټاکنې هم شامل دي.

دغه ټولې مسئلې زموږ په مخ کې دي، چې د اوسني ماموریت پر بنسټ چې د یوه کال لپاره دی، باید اجرا شي، خو په یقین سره د دې لارښوونې د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته د نورو کلونو لپاره هم د اعتبار وړ وي.

اجازه راکړئ په خپله له ماموریت څخه په څو ټکو باندې رڼا واچوم، څو تاسې دا احساس کړئ چې د امنیت شورا زموږ د نویو وظیفو په اړه کومه مشخصه ژبه کاروي. دا په ښکاره ډول وايي، چې د یوناما کار باید د هغو اصولو له مخې رهبري شي، چې د افغانستان خپلواکي، مشرتابه او مالکیت غښتلی کوي او موږ باید دې ته ادامه ورکړو، چې نړیوالې ملکي هڅې سره همغږې کړو. د ماموریت بله برخه دا ده چې یوناما د همغږۍ او څارنې د ګډ بورډ د مشترک مشرتابه په څیر باید د نړیوالې ټولنې له خوا د افغان حکومت سره د پرمختیایي او حکومتداري په چارو کې یوالی تقویه کړي. یوناما باید د خپلو جمیله مساعیو له لارې خپلو هڅو ته ادامه ورکړي، چې د افغانانو له خوا پیل شوي او رهبري د سولې او پخلاینې پروسه تقویه کړي او د باور د پیدا کولو لپاره کوښښ وکړي. دغه ټول کارونه باید د افغانستان د اساسي قانون د چوکاټ په د ننه کې ترسره شي. موږ باید د افغان چارواکو د غوښتنې له مخې راتلونکې ټاکنې تنظیم لپاره کومکونه وکړو او د افغان حکومت هڅې د پایښت لرونکې ، معتبره او ټول شموله ټولټاکنی لپاره کومک وکړو. همدارنګه باید موږ د ټاکنو د پروسې لپاره تخنیکې مرستې برابرې کړو او د ظرفیت په لوړولو کې هم مرستې ترسره کړو.

موږ باید سیمه ییزه همکاري غښتلي کړو، چې په دې برخه کې څو بیلګې لرو. یوناما باید د ملګرو ملتونو د هیوادني ټیم صلاحیتونه لوړ کړي، یعنې د هغوي پانګې، پروګرامونه او اداري پراخې او موږ باید د انتقال پروسه په پام کې ونیسو. موږ باید د افغاني موسساتو په پیاوړي کولو زور واچوو، چې خپل مسوولیتونه د لومړیتوبونو په ځینو ساحو کې ترسره کړي، د مثال په ډول. موږ باید د افغان حکومت هڅې تقویه کړو، چې د قانون د واکمنې او حکومتداري په ډیرو برخو کې کوي، لکه انتقالي عدالت، د بودجې لګول او د فساد سره مبارزه. د دې لپاره موږ باید د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون ظرفیت لوړ او له هغوي سره همکاري وکړو، د ملکي خلکو وضعه تر څارنې لاندې ونیسو، هڅې همغږې کړو، څو د دوي ساتنه یقیني شي، اقتصاد تقویه کړو او د افغانستان په اساسي قانون کې ټولې بنسټیزې ازادۍ او بشري حقونه په بشپړ ډول عملي شي او د بشرپالنې مرستې همغږې کړو. د ماموریت ډیرې نورې برخې هم شته، چې زموږ په راتلونکو کارونو پورې اړه لري. یوځل بیا زه ډیر خوښ چې دا ماموریت تر لاسه کوم.

په پای کې باید ووایم، چې له نیویارک څخه د راستنیدو په لار کې ما له دوشنبې تاجکستان څخه هم لیدنه ترسره کړه. ما له چاروکو سره دوه اړخیزه خبرې درلودې، رسمي سفر مې درلود او هم مې د سیمه ییزه همکارۍ په کنفرانس کې ګډون وکړ. دغه غونډه ځکه ډیره مهمه وه، چې له افغانستان سره په اقتصادي همکاریو او پروژو خبرې وشې، چې ګاونډې هیوادونه به یې سرته رسوي او د نړیوالې ټولنې مرسته به ورسره وي. زه ډیر په دې خوښ یم چې هلته د نړیوالې ټولنې غړي هم شامل او په دې خبرو اترو کې یې برخه واخیسته، چې څرنګه به دغه فعالیتونه په مالي ډول تقویه شي.

همدارنګه مهمه خبره دا وه، چې د سیمې د څلورو هیوادونو ولسمشرانو (تاجکستان، افغانستان، پاکستان او ایران) په دې غونډه کې برخه واخیسته او د نوي کال ورځ یې چې د ملګرو ملتونو له خوا هم اعلام شوې وه ، ولمانځله. همدارنګه دوي هلته، دوه اړخیزې، درې اړخیزې او څلور اړخیزې غونډې درلودلې. له دې څخه معلومیږي چې د سیمې هیوادونه اوس خپلې هڅې کوي چې په افغانستان کې ثبات، سوله او پرمختګ راشي. زه په دې ډیر خوشحال یم چې ما له ولسمشرانو سره دوه اخیزه خبرې درلودلې. زه په دې ډیر خوښ یم چې دوی د خپلو مرستو ژمنې وکړې. همدارنګه زه په دې هم خوښ وم چې له اوږدې مودې وروسته د دریو هیوادونو (افغانستان، پاکستان او امریکا) استازو بیا په یوه مهمه غونډه کې سره ولیدل. دا ډیر مهم پرمختګ و، ځکه چې د دریو هیوادونو ګډې هڅې بیا له سره پیل شولې او دا د افغانستان د پروسې لپاره یوه ښه علامه وه. په پای کې غواړم په دې ټینګار وکړم، چې موږ په دې خوښ یو چې یوناما د ملګرو ملتونو د کورنۍ په څیر د امنیت د شورا له خوا په یوه خوله نوي ماموریت بیا تر لاسه کړ. له لسو کلونو وروسته موږ د کار په تمرکز کې یو بدلون وینو. دغه بدلون موږ د افغانستان د خپلواکۍ په برخه کې وینو او موږ د دې اړتیا احساس کړې ده، چې موږ ملګري ملتونه باید په یوازې ډول نه بلکې د افغان حکومت او د افغان ټولنې سره یو ځای له دوي سره مرسته وکړو. په دې ذریعه زه د امنیت له شورا څخه ډیره مننه کوم، چې د نوي ماموریت په ذریعه یې له موږ سره لازمه مرسته کړې. زه اوس ستاسو پوښتنو اوریدلو ته تیار یم.

**پوښتنې او ځوابونه**

**چینل یک ټلویزیون:** لکه څرنګه چې مو یادونه وکړه تاسو د RECCA په غونډه کې ګډون کړی و . انګیرنه مو د ولسمشر احمدی نژاد د څرګندونو په اړه څه ده چې په چټکۍ یې د بهرنیو ځواکونو د وتلو غوښتنه کړې وه؟

**ځانګړی استازی:** لومړۍ خو زه غواړم ښاغلي ولسمشر احمدی نژاد ته د خپل درناوي مراتب وړاندې کړم چې زه یې ومنلم. موږ یوه مهمه او ګټوره څو اړخیزه غونډه له ښاغلي ولسمشر سره درلوده.

ښايي دا هم پرې ورزیاته کړم چې له نیکه مرغه وړاندې له دې چې د رواني میاشتې په منځ کې نیویارک ته ولاړ شم ما له ایران څخه هم لیدنه وکړه او له ښاغلي ولسمشر، د بهرنیو چارو له وزیر او د مختلفو ادارو له نورو لوړ پوړو چارواکو او د ایران له وزیرانو سره مې خبرې اترې درلودې.

د نړیوالو د شتون په تړاو هوکی ښاغلي ولسمشر دلته په هیواد کې د بهرنیو ځواکونو د شتون په اړه د ایران دریځ په ډاګه کړ. موږ په دې بحث وکړ. ما واوریدل هغه څه چې مهم دي په درنه توګه افغانستان او په سیمه کې د هغې ملګرو ته د دې پیغام رسول دي. ښايي دا دوه اړخه ولري چې د نړیوالو ځواکونو د پوځي حضور پای ته رسیدل دي چې ترسره کیږي. دا یو ژوندی حقیقت دی او د لیږد بهیر ورته بهیر دی نو کوم حیرانوونکي څه نه دي.

د نوموړي څرګندوني تر ډیره له ۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې د پوځی حضور په اړه وې. او یو ځل بیا زه غوره بولم چې د دې اړتیا لومړی د افغانستان له حکومت سره مشوره وشي. ځکه افغانستان یو خپلواک هیواد دی او د یوه خپلواک هیواد په توګه لومړی دا په افغانستان پورې ده چې پریکړه وکړي په څه ډول یوه ملګرتیا کې غواړي ښکیل شي. له چاسره غواړي په دغو شان د ملګرتیا په موافقو کې ګډون وکړي، ملګرتیا به یې کوم وي، برخې او موضوعات چې افغانستان به له دغې یا هغې ستراتیژیک ملګري سره همکاري کوي. همدارنګه غواړم څرګنده کړم چې په حقیقت کې افغانستان د خپلې واکمنۍ مسوولیت لري او همدا اوس یې یو شمیر ستراتیژیک تړونونه له ګڼو هیوادونو سره کړي دي او له ځینو نورو هیوادونو سره خبرې رواني دي.

په دغو شان ملګرتیاوو کې دوی اړین وضاحتونه برابر شوي او د افغانستان د راتلونکې ملاتړ په پام کې نیول شوی. که چیرې تاسو د بیلګې په توګه له فرانسې سره تړون وارزوی، تاسو به وګورئ چې هغوی د اقصادي پرمختګ، ټولنیز پرمختګ، پوهنې، د امنیتي ځواکونو د ځینو روزنو او ګڼو نورو مسلو په اړه غږیدلي دي.
خو یو ځل بیا زما مقصد دلته دا دی چې په یوه خپلواک هیواد پورې چې افغانستان هم یو خپلواک هیواد دی اړه لری چې پریکړه وکړي څه ډول ستراتیژیک تړون او له چا سره غواړي ولري. همدارنګه مناسبه ده چې اوس دا افغانستان دی چې له خپلو ګاونډیانو سره مشوره وکړي او هغو ټکو ته چې ګاونډیان یې راپورته کوي غوږ ونیسي. او یو ځلی بیا دا پریکړه په یوه خپلواک هیواد پورې اړه لري.

**کابل نیوز ټلویزیون:** څه موده وړاندې مخالفینو اخطار ورکړ چې د افغانستان حکومت غواړي په راتلونکو ټاکنو کې د ملګرو ملتونو رول راکم کړي، آیا تاسو دا تاییدوی؟

**ځانګړی استازی:** زه ډاډه نه یم چې زه پوهیږم چې د کوم ایتلاف د ډلې کوم مشر تاسو په فکر کې لری ښايي ژباړه ډیره کره نه وي ښه که چیرې پوښتنه دا وي نو زه د ټاکنو په اړه ستاسو پوښتنه پوهیږم، د ممکنه شونتیا او د ټاکنو په بهیر کې د د

ملګرو ملتونو د رول په اړه .که چیرې داسې وي، یو ځلې بیا زه غواړم چې ستاسو پام زما د نوي ماموریت څو برخو ته واړوم چې په اړه یې ډیرې خبرې کیږي چې تمې ورځینې څه دي .په بنسټیزه توګه نه یوازې تمې بلکې څه ډول او څرنګه موږ رول ولوبوو .موږ د افغانستان خپلواکې ته په ټول درنښت درلته په هیواد کې کار کوو .ټاکنې د هیواد مسوولیت دی .دا د خپلواکی یو نماد دی چې ټولې سیاسي پروسې د هیواد تر پوښښ لاندې وي .خو البته چې موږ د ټاکنو د کیفیت په اړه غږیږو .موږ د ټاکنو د بهیر د رڼوالي والي په اړه غږیږو .موږ د ټاکنو د بهیر د هر اړخیز والي په اړه غږیږو .موږ د ټاکنو په پروسه کې د ټولو وګړو د ګډون د حق په اړه غږیږو .موږ د عادلانه او آزادو ټاکنو په اړه غږیږو چې د ټاکنو د بهیر رڼې پایلې په ډاګه کوي او دا د ماموریت یوه برخه ده چې موږ به د ټول دغه څیزونو ملاتړ کوو .او د ټولو هغو اړینو لارو چارو ملاتړ کوو چې د ټاکنیز بهیر د رڼوالي زیاتوي چې دولتي بنسټونه د دې جوګه کوي چې ښه کار وکړي او با کیفیته ټاکنې وړاندې کړي .موږ به تخنیکي مرسته برابره کړو او ظرفیتونه به جوړوو .موږ چمتو یو چې د ټاکنو د اصلاحاتو د مسلې په اړه سلا مشورې ورکړو د ټاکنو اصلاحات .موږ پوهیږو چې دا تر چمتوالي لاندې دی .البته موږ د چاروکو په دې غوښتنه خوښ یو .ځکه موږ ځان نشو مجبورولی چې په دې بهیر کې ښکیل شو خو موږ احساسوو چې ښایي غوښتنه یې وي .موږ چمتو یو چې د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د خپلواکی لپاره ملاتړ برابر کړو چې په حقیقت کې ورسره مرسته وکړو چې د بهیر سم قضاوت کیږي ځکه همیشه له ټاکنوروسته شکایتونه وي .دا د اړتیا پر بنسټ له اړین کیفیت سره کار دی .په دې توګه چې د هیواد وګړي او د هیواد سیاسي ځواکونه په بهیر پوره ډاډ ولري .زما ماموریت په دې برخه کې ښه او غوره دی چې موږ د دې جوګه کړي چې په دې برخه کې د پام وړ رول ولوبوو .ځکه دا اوس هم د یوه خپلواک هیواد دنده ده چې ټاکنې په لاره واچوي .خو زموږ لپاره موږ پوره ماموریت لرو چې د چاروکو په غوښتنه کار وکړو .خو په ډیره فعاله توګه د چاروکو په ملاتړ کې چې د ټاکنو رڼوالی غښتلی کړي، لا نورې یې هم با اعتباره کړي او د بهیر یې د با اعتباره او آزاده ټاکنو په توګه ومنل شي.

دا هغه څه دي چې په راتلونکې کې به زموږ کار رهنمایي کړي .نه یوازې په یوه کال کې بلکې په حقیقت کې موږ او هیواد د ټاکنو په برخه کې د وخت په پام کې نیولو سره مخ په وړاندې هدایت کوي .هوکی زه فکر کوم چې تاسو به د ملګرو ملتونو فعال رول ووینی .زه همدا راز کولی شم تایید کړم چې د بیلګې په توګه د تخنیکي مرستې او ظرفیت جوړونې لپاره یوازې د تړاو له مخې په دې وروستیو کې د یو ان ډی پی او د ټاکنو کمیسیون د چارواکو ترمنځ د یوې نوې هوکړې پر بنسټ کار پیل شوی یا هم جریان لري .چې خپل ظرفیتونه پیاوړي کړي او خپل بهیر ته پرمختګ ورکړي .موږ دغه شان تخنیکي مرستې برابرو او د هغې پروسې له لارې چې د الکیت دوه په نامه یادېږي د ظرفیت جوړولو په برخه کې کار کوو . ځکه نو موږ همدا اوس ښکیل یو.

**بی بی سي ( له دری نه ژباړه):** سره له دې چې تاسو د حکومتي سیاستوالو ملاتړ کوی تاسو د ځینو مخالفو مشرانو سره خبرې کوی. چې یوه له دې ډلې څخه په دې وروستیو کې له جنرال دوستم سره غونډه وه. له نوموړي سره مو خبرې په څه ورتولې وې؟

**ځانګړی استازی:** مقصد ساده دی. زه دلته يم او د ملګرو ملتونو په توګه موږ دلته يو په ځانګړي توګه يوناما چې د ټولنې له ټولو اقشارو، له سياسي ځواکونو سره خبرې وکړو، په حقيقت کې د هيواد د بيلابيلو برخو له استازو سره خبرې وکړو. د دې مانا دا ده چې دا يوه طبيعي خبره ده چې موږ له حکومت، مدني ټولنې سره، دلته په کابل او په هيواد کې خبرې کوو.

موږ غواړو له قانوني مخالفينو سره خبرې وکړو که چيرې زه دا هم د بيلابيلو سياسي ځواکونو په کتار کې ځای کړم نو زه ډير خوښ يم چې اوس زه دا چانس لرم چې د يوې سياسي ډلې له مشر سره خبرې وکړم. چې د يوې پراخه ملي جبهې يوه برخه دی. د ګوندونو پراخ ايتلاف دلته حيرانتيا نه رامنځ ته کوي او په حقيقت کې دا د هيواد د يوې پياوړې برخې وګړو استازيتوب کوي.

موږ خبرې وکړې او زه به ووايم چې هر هغه څه چې په هيواد کې پيښيږي اړيکي سره لري. موږ د ليږد د بهير په اړه خبرې وکړې، د ټاکنو په اړه مو خبرې وکړې، د غوره حکومتوالی په اړه مو خبرې سره وکړې، د سولې او روغې جوړې د بهير په اړه خبرې وکړې، د تمو په اړه مو خبرې وکړې، خو موږ د هغو ننګونو او انديښنو په اړه هم خبرې وکړې چې په ټولنه کې د بيلابيلو ډلو پاملرنې ته بايد راکاږل شي.

جنرال دوستم خپل ليدلوری، خبرې، انديښنې، هيلې راسره شريکې او څرګندې کړې. زه هغه نه تکراروم ځکه دا په ده پورې ده چې په اړه يې له خپله لوري خبرې وکړي. خو زما برخه، زه وتوانيدم چې خپل ماموريت ته چې همدا اوس تصويب شو مراجعه وکړم. په حقيقت کې زموږ څخه غوښتل شوي و چې په ګڼو پروسو کې ښکيل اوسو، خو په ټولو پروسو کې نه. زه تاييدوم د يوه اساس په توګه چې موږ به ښکيل و او موږ به له ټولنې سره کار وکړو، له حکومت سره به کار وکړو، له ټولو سياسي ځواکونو سره چې د افغانستان د خلکو استازيتوب کوي.

**ميوند ټلويزيون:** ښاغلي کوبيش ژمنه وکړه چې د نوي کال لپاره به يې ماموريت سرته رسوي نورو ځانګړو استازو هم ژمنه کړې وه خو هغوی په هغه څه کې چې ژمنه يې کړې وه لږ بريالي شوي و، ستاسو په نظر تاسو به په دغو ستونزو لاس بري شی؟

**ځانګړی استازی:** هوکی، خو يو ځلې بيا او بيا بايد يو ځوک په دقت سره هغه څه چې ژمنه کوم ولولي. هوکی زه په يقيني توګه د دوامداره موافقت ژمنه کوم. زه په يقيني توګه په هغو برخو کې چې زما ماموريت يې رانغاړي فعال يم. زه د نورو په استازيتوب ژمنه نشم کولی.

يو ځل بيا کله چې زه واکمنی ته اشاره کوم، کوم مسئووليت چې له واکمنی سره راځي، د حساب ورکړه چې له واکمنی سره راځی. دا د افغان چارواکو او د ټولنې لپاره په ګڼو برخو کې د پام وړ دي. زه نشم کولی له ملګرو ملتونو، يوناما او د ملګرو ملتونو له کورنی پرته نورو ته حساب ورکونکی واوسم. له دې نظره موږ کولی شو ډير څه ورسوو.

يو ځل بيا يقينی پايلې زموږ په لاس کې نه دي. موږ کولی شو او هڅه به کوو. په نورو برخوک کې له دې ډيري. د بيلګې په توګه د بشري حقونو په برخه کې زموږ ماموريت ډير غښتلی دی او موږ به ډير قوی کار کوو، په روښانه او خپلواکه توګه،

ځکه دا بشري حقونو د یوالي پر بنسټ دي، د هیواد د اساسي قانون پر بنسټ دي او د هیواد د نړیوالي ژمنتیا پربنسټ دي او د هیواد د قوانینو پر بنسټ. موږ به دلته د اوس په څیر کار کوو او په ډیره فعاله توګه.

موږ یو ځلي بیا// موږ یې رسوو خو نیغ په نیغه نه. موږ نشو کولی په بندیخانو کې وضعیت بدل کړو خو زموږ د فعالي څارنې او مشورې له لارې موږ بدلونونه وینو چې زموږ د سپارښتنو په ځواب کې شوي دي او موږ خوښ یو. ټول بدلونونه چې موږ یې غواړو وګورو ښایي ونشي خو ګڼ یې شوي او دا یو بهیر دی. ځکه نو په راتلونکي کې به نوې سپارښتنې وي او یو ځلي بیا په دې برخه کې له چاروکو ځواب لرو ځکه نو د مثبتو ځوابونو تمه شته. یو شی چې زه یې هر چا ته د خبرو پرمهال سپارښتنه کوم چې څه شوني دي او څه نه دي شوني چې پرې برلاسي شو. په حقیقت کې ځوک د څه د رسولو لپاره مسوول دي. او بیا ملګري ملتونه هغه څه ډول ورسوي او نور ګوندونه او ملګري یې د هغوی د مسوولیتونو په پام کې نیولو سره په سمه توګه ورسوي.

**راه فردا تلویزیون** :(له دري نه ژباړه) تاسو وویل چې تاسو د APRP ملاتړ کوی خو دغه بهیر یوه ناکامه پروسه ده او د دغې پروسې له لارې چې رنه نه ده، ځینې کسان چې په جنایتونو تورن دي ورګډ شوي ستاسو نظر څه دی؟

**ځانګړی استازی:** البته تاسو خپله پوښتنه په هغه ډول چې تاسو جوړه کړې مطرح کړه او دا ستاسو حق دی .زه به یوازې ووایم چې تر ټولو مهم ټکی چې دلته دی هغه دا دی چې آیا د هیواد خلک غواړي چې سوله او روغه جوړه ووینې که غواړي چې د رواني شخړې دوام ووینې، بې ثباتي، جګړه او وژل ووینې .که چیرې تاسو دې ته ښه ځواب لری .زموږ معلومات دا دی چې د هیواد اکثریت خلک غواړي چې سوله ووینې، ثبات ډیر شي، لږ شخړې وي او وژنې نه وي .تاسو باید هڅه وکړی، موږ باید هڅه وکړو چې وژغورو او د ملګرو ملتونو په توګه موږ باید هڅه وکړو چې له دې بهیر سره مرسته وکړو .د سولې هره پروسه لږ ترلږه په ابتدایي پړاوونو کې، په دې مانا ده چې تاسو له هغو کسانو سره غږیږئ چې اوسمهال په جګړه بوخت دي .دا حتمی ده خو اړینه نه ده له هغو کسانو سره وي چې ستاسو خوښیږي .خو له هغوی پرته تاسو د سولې پروسه پر مخ نشی وړای .زه فکر کوم چې تاسو غواړی د سولې بهیر پرمخ ولاړ شي .ځکه نو موږ به له ملګرو سره کار وکړو موږ به د افغانانو په مشری له ګوندونو سره د دې بهیر ملاتړ وکړو .چیرته چې ټولې اړونده ډلې په کې برخه واخلي. موږ د سولې او روغې جوړې په حقیقي پروسه کې نه یو .موږ لا تراوسه د ډیرو هڅو په پیل کې یو .موږ تراوسه په ډیرو برخو کې په اکتشافی پړاو کې یو .موږ غواړو وینو چې د افغانانو په مشری دغه بهیر په حقیقت کې هر اړخیز دی .زه هیله لرم چې د بیلګې په توګه د یوې وسیلې په توګه د سولې عالي شورا به د دغو ټول وڅرګندونه وکړي، خپل ځان به بیا جوړ کړي او بیرته به یې منظم کړي .او د خپل ژوند په راتلونکي پړاو کې به د یوې ریښتینې استازې اداري په توګه خدمت وکړي .خو دا بیا هم په دوی پورې ده، د سولې عالي شورا چې ترسره یې کړي .د ملګرو ملتونو په توګه موږ د ټولو با اعتباره او مهمو هڅو ملاتړ کوو، ښایي چې بشپړې نه وي .خو که چیرې هغوی د سولې او روغې جوړې پر لور ور پرانیست موږ به یې ملاتړ وکړو که څه هم بشپړ نه وي .د دې پرځای چې یوې خواته کښینو او ننداره یې وکړو غوره ده چې ملاتړ یې وکړو .زه ماموریت لرم او زه ډیر خوښ یم چې دا ماموریت لرم چې همدا وکړو .یو ځل بیا مې د ملګرو ملتونو د امنیت په شورا کې تایید کړه چې موږ ښکیل یو .موږ اړین ظرفیت لرو، موږ د امنیت شورا اړین ملاتړ لرو .

ځکه نو زه ډیر خوښ یم چې یوناما کولی شی د افغانانو په مشری د افغاني بهیر پیاوړی ملاتړ وکړي او موږ به دې ته ادامه ورکړو.

**سلام وطندار:** خلک عدالت غواړي او انتقالي عدالت تراوسه هم ځنډیدلی او عملی شوی نه دی .حکومت له کلونو راهیسې په دې برخه کې ډیر څه کړي .تاسو به د دې لپاره څه وکړئ؟

**ځانګړی استازی:** زه ډیر خوښ یم چې تاسو حکومت ته مراجعه وکړئ ځکه دا یوناما نه ده چې عدالت برابر کړي .موږ کولی شو آسانتیاوې برابرې کړو موږ له قدرمنو چاړواکو، له سیستم او بنسټونو سره مرسته کولی شو چې خدمات عرضه کړي او موږ به همدا کوو . موږ به سیاسی کار هم کوو او هم به د ټولو هغو هڅو ملاتړ کوو چې په موقته توګه دا توان ورکوي چې انتقالي عدالت ورکول کیږي .عدالت همدلته دی .هو موږ او زه ویلی شم چې دا په روښانه توګه په سیمه کې له وضعیت سره ډیر د رضایت وړ نه دی .موږ راضی نه یو خو موږ له خلکو اورو چې هغوی په سیمه کې له وضعیت څخه ډیر خوښ نه دي.

دا زموږ د ماموریت یوه برخه ده چې د پرمختګ لپاره کار وکړو، چې پرمخ ولاړ شو، بنسټونه پیاوړي کړو، دلته په کابل کې د مرکې حکومت په کچه خبرو اترو کې ورګډ شو خو په هغو ځایونو کې چې ماموریت لرو په ګڼو نورو برخو کې هم کار کوو .سره له دې چې موږ به خپل حضور پیاوړی کوو موږ به په ګڼو سیمو کې پاتې و .

تاسو به په کراره زموږ د دفترونو بیا جوړښت ووینئ .موږ به هڅه وکړو چې خپل ځان بیا متمرکز کړو او په سیمه کې ووسو هلته چې کولی شو اکثریت خلکو ته ورسیږو .موږ به کار کوو او خپلو هڅو ته به ادامه ورکوو .یو ځل بیا دا ښه ده چې تاسو په خپله پوښتنه کې یاده کړه همدارنګه حکومت ځکه دا د حکومت مسوولیت دی .موږ کولی شو ملاتړ یې وکړو او کار وکړو .

ستاسو له پوښتنو څخه مننه، ستاسو له لیوالتیا څخه، ستاسو له ګډون څخه .په راتلونکو دوه دریو اوونیو کې به د خبرو لپاره یو بل بیا سره وګورو .ډیره زیاته مننه